## الحاج الهام الدين قیام



# شهر بی پُرسان

نه کلی لکه کلی او نه ښار د ښار په څیر دی
نه سیال د سیال په څیردی اونه یارد یارپه څیردی

له یوی مور او یو پلارنه پیدا شوی اولادونه
نه ورور د ورورپه څیردی اونه ځوی د پلارپه څیردی

عجیبه زمانه ده ، عجیب خلک دلته اوسي
نه مور د موږ په څیردی او نه خوار د خوارپه څیردی

څوک ویاړته دلته عار وایي ، څوک عارته بیا ویاړ وایي
نه ویاړ د ویاړپه څیردی او نه عارد عارپه څیردی

یو"شهر بی پُرسان"دی ، پکی ښه او بد ګډوډ دي
نه لږ او ډیر معلوم دي او نه شمار د شمارپه څیردی

والدورف/جرمنی
۲۰۱۴/۰۷/۱۹